شهادت

دجهاد سره ستاسو مرسته ... (logo slogan)

چهارصفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبر مسلسل (۱۱۸٤) سال نزدهم شماره (۹۰) سه شنبه (۲) اسد ۱۳۷۵ هـ ش (۸) ربیع الاول ۱٤۱۷ هـ ق - (۲۳) جولای ۱۹۹٦ م

الهي لاربوونې

پدې ترگه مور په هغه هیواد کې دیوسف علیه السلام لپاره دحاکمیت لاره آواره کړه ، دهغه خوښه ره چې په هغه (هیواد) کې چې چیرته یې غوښتل ځانته ځای جوړ کړي ، مور خپل رحمت چا ته موچې خوښه شي ورپه برخه کوو ، دنیکوکارانو اجر له موږسره نه ضایع کیږي اود آخرت اجر دهغو کسانو لپاره ویر غوره دی چې ایمان یې راوړی او دخدای وېره له ویری سره کارکوي .

(یوسف ۵٦-۵۷)

پاکستان دافغانستان لپاره دترانزيتي لارې دبیا پرانیستو پریکړه کوي

نوی تصمیم له دولت سره داریکودنه کولو او دایران له خوا فغاني تجارانو ته داسانتیاوو دبرابرولو له مخې نیول کیږي

دتورخم - کابل - حیرتان له لارې نه داستفادې په موضوع دمذاکراتو لپاره تیاری نیول کیږي

پېښور - د زمری لومړی نیټه پرون یوې مسئولې اومعتبرې منبع شهادت ته وویل چې دپاکستان داسلامي جمهوریت حکومت پریکړه کړې چې دافغانستان لپاره دتجارت ترانزيتي لاربیا پرانیزي .

منبع وویل چې شاید په څو راتلونکو ورځو کې دپاکستان دحکومت نوموړې پریکړه اعلان شي ،اوپاکستانی مسئولین په دې غور کوي چې دافغانستان له دولت سره دتورخم - کابل - شیرخان بندر اوتورخم- کابل - حیرتان له لارې نه داستفادې په موضوع رسمي خبرې اترې پیل کړي .

یوې بلې منبع شهادت ته وویل چې پاکستان دافغانستان ترانزیت لارې دپرانستلو پریکړه ترهغه وروسته کوې چې کله څو ورځې دمخه ددې هیواد دکورنیو چارو وزیر نصیرالله بابر ... دبلوچستان کې دمعلومه شوه چې دایران له خوا چې افغاني تجارانو ته

پاتې «٤» مخ «٥» کالم

اعلامیه مشترک مطبوعاتی اعضای شورای جهادی ولایت ننگرهار:

معاهده تاشکند نظر شخصی حاجی قدیر می باشد به هیچ صورتی منعکس کننده نظرات شورا نیست

شورای جهادی ننگرهار طرفدار اتحاد کامل نیروهای جهادی بوده وائتلاف ها را راه حل قضایانمی داند

براساس فیصله شوراهای جهادی وعلمیٔ ننگرهار باید بیطرفی اش رادرمسایل جاری کشور حفظ نماید

حضرت علي : شورای جهادي درگذشته بیطرف بوده وبیطرف باقی خواهد ماند

جلال آباد - اول اسد :

«معاهده امضا شده درتاشکند پایتخت ازبکستان نمایندگي ازتوافق نظر همه اعضاي شوراي جهادي ننگرهار نمي کند بلکه یك نظر شخصي میباشد » این مطلب دراعلامیه مشترك مطبوعاتي سه تن ازاعضاي مهم وكلیدي شوراي جهادي ننگرهار بالترتیب فضل الحق «مجاهد» استاد سازنور خان والنجنیرمحمود به نشررسیده است . در اعلامیه متذکره گفته شده که شوراي جهاد ننگرهار طرفدار اتحاد کامل همه نیروهاي جهادي میباشد، ائتلاف هارا راه حل مسایل نمي داند وماننده گذشته ها بیطرفي اش را حفظ خواهد کرد زیرا فیصله شوري هاي جهادي و علمیٔ ولایت ننگرهار هم برهمین اساس وبنیاد استوارمیباشد.

آنهادراین اعلامیه مطبوعاتي گفته اند که شوراي جهادي ننگرهار باگروه جنرال دوستم هرگز ائتلاف وسازش نخواهد کرد،آنها ادعاکردند که ائتلاف باجنرال دوستم به معني اضافه کردن بحران جاري درکشورمیباشد.

همچنان طبق گزارش جداگانه دیگر حضرت علي یکي از قوماندانان مشهور وعضو شوراي جهادي ننگرهار دریک مصاحبه اختصاصي روزیکشنبه باروزنامه وحدت گفته است :« شوراي جهادي ننگرهار درگذشته نیز بیطرف بوده

بقیه درستون «۷» صفحه «٤»

دخالد فاروقي په قرارگاه باندي دطالبانو برید په شا وتنبول شو

دمتقابل برید په نتیجه کي (۲۰) طالبان اسیران ، اوه مړه او یوتن زخمي شوي دي

ارگون - دزمري ۱ :

طالبانوپه ارگون کي دخالد فاروقي « په قرارگاه باندي حمله وکړه ، دترلاسه شویو رپوټونوپه حواله ویل کیږي چې: دطالبانو دولي افرادو په دریو بجو په ارگون کي دخالد «فاروقي » په قرارگاه باندي بوپراخ برید پیل کړ. حکړي ترینځو بجوپوري دوام وموند او ددوو ساعتونوجگړي په دوام کې دخالد فاروقي « دقرارگاه مجاهدینو دطالبانو دحملې په وړاندي سخت مقاومت وکړ ... دجگړي

پاتې «٤» مخ «٦» کالم

محفل ضیافتی به افتخار تقرر جنرال کونسل جدید جمهوری اسلامی ایران در پشاور برگزار شد

پشاور - ۱ اسد :

شام دیروز ضیافتي درهوتل پیرل کانتیننتل به افتخارتقرر جنرل کونسل جمهوري اسلامي ایران درپشاور برگزارگردید .

درین محفل محسن ابوطالبي رئیس خانه فرهنگ جمهوري اسلامي ایران درپشاور پیرامون روابط کشورمتبوعش باجمهور ي اسلامي پاکستان وهمچنان درمورد شخصیت محمدفتح علي جنرل

بقیه درستون «۵» صفحه «٤»

دوزیرانو دعالی مجلس په غونډه کی :

په کابل کی دپاکستان دسفارت دبیا پرانستلو په باب دبهرنیو چارو وزارت ته دنده وسپارله شوه

له بهر نه دخوراکي اونفتي موادو دواردولو اوتازه میوو دصادراتو دبازار میندلو په خاطر دکورنیو چارو اومالیي وزیران پاکستان ته سفرکوي

کابل - دزمري ۱ مه :

دوزیرانوعالي مجلس پرون له غرمې مخکې دهیواد دصدراعظم ورور حکمتیار په مشري غونډه وکړه .

دکابل له بنارخخه دشهادت خبریال خبراکوي چې : دوزیرانو دعالي مجلس دغونډې په پیل کې داسلامي دولت صدراعظم دهیواد دحالاتو په باب خبري

پاتې «٤» مخ «٥» کالم

ددولت درئیس اوصدراعظم له خوا نه دمصر دجمهور رئیس اوصدراعظم په نومونو قاهري ته دمبارکي پیغامونه واستول شول

کابل - دزمري اول :

دافغانستان داسلامي دولت دجمهور رئیس استادرباني او داسلامي دولت دصدراعظم وروز حکمتیار له خوا نه دمصر دجمهوررئیس او صدراعظم په نومونو دهغه هیواد دملي ورځي په مناسبت قاهري تـه دمبارکي پیغامونه

پاتې «٤» مخ «۷» کالم

انفجار بم درمیدان هوایی لاهور (۹) کشته و(۲۰) مجروح برجای گذاشت

بم درزیرچوکی درسالون انتظارمسافرین داخلی جابجاشده بود

لاهور - ۱ اسد :

درنتیجه انفجار بم دریکي ازسالون هاي انتظار مسافران داخل میدان هوایي بین المللي شهرلاهورپاکستان ده نفرکشته وسي تن مجروح شدند .

طبق گزارش منابع خبري پاکستان بم دریکي ازسالون هاي انتظارمسافران داخلي درزیرچوکي جابجاشده بودکه درنتیجه انفجار آن اطاق هاي همجوارآن منهدم شدند. مامورین امنیتي میدان هوایي گفته اند که دراین انفجار دست نیروهاي خارجي دخیل بوده اماتاحال شخص ویاگروهي مسئولیت این انفجار را

بقیه درستون «۷» صفحه «٤»

دصدراعظم له خوانه تهران ته دحسن «حبیبی» په نامه دمننی پیغام

کابل - دزمري اول :

داسلامي دولت دصدراعظم ورور حکمتیار لخوا دمبارکي دهغې پیغام په ځواب کي چې دهیواد دصدراعظم په توګه دده دټاکني له امله کابل ته رارسیدلي و دایران داسلامي جمهوریت دجمهوررئیس دلومړي مرستیال په نامه تهران ته په دي ورځ دمننې پیغام مخابره شوي دی .

دایران دجمهوررئیس لومړي مرستیال محترم وروړ حسن «حبیبی» !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

په ډېري خوشحالي سره مو ستاسو دعالي جناب دمبارکي پیغام ترلاسه

پاتې «٤» مخ «٦» کالم

دکندزولایت دعلماوو ، قومی مشرانو اومجاهدینو په غونډه کی:

مونږ دهیواددصدراعظم له خوا داعلان شویو اصلاحاتو ملاتړکوو

کندز - دزمري ۱ مه :

دکندز ولایت علماوو قومي مشرانو اومجاهدینو ورمه ورځ دنوموړي ولایت په مرکز کي غونډه وکړه .

له کندزولایت څخه په رارسیدلو

پاتې «٤» مخ «٤» کالم

بینظیربوتو صدراعظم پاکستان همراه باّ لي کي جو با معین وزارت خارجه کوریاي جنوبي روز یکشنبه درسیول ، از قطارگارد تشریفاتي قواي هوایي مي گذرد . خانم بوتو اکنون مصروف دیدارازکوریاي جنوبي است

به اساس گزارش روزنامه ،اکانومست چاپ هانگ کانگ :

پاکستان تصمیم گرفته روابطش بادولت افغانستان رابهبود بخشد

هانگ کانگ - ۱ اسد :

پس از احرازپست صدارت عظمي توسط حکمتیار و نا کامي طالبان پاکستان تصمیم گرفته است تاحمایتش را ازگروه طالبان قطع و دربهبود روابط بادولت افغانستان سعي کند .

روزنامه « اکانومست» چاپ هانگ کانگ درگزارشي که متن آن در روز نامه پاکستاني نواي وقت انعکاس یافته نوشته است :زمانیکه حکمتیار با پروفیسور رباني مخالفت داشت، حکومت پاکستان باوي روابط حسنه داشت ولي باظهور طالبان این کشور ازهیچ نوع همکاري بااین گروه دریغ نکرد .

طبق همین گزارش اکنون که طالبان

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

پاکستان ازایالات متحده گندم وارد می کند

اسلام آباد - ۱ اسد

قرار است پاکستان درسال جاري مالي مقدار نیم میلیون تن گندم به ارزش فی تن ۱۸٤ دالر امریکایي وارد کند .

یك مقام رسمي پاکستان به روزنامه دی نیوز گفت : سه گروه براي ورود مقدارمتذکره گندم از ایالات متحده انتخاب شده اند .

منبع افزود : وما گندم را به قیمت مناسب في تن ۱۸٤ دالردریافت میکنیم درحالیکه درسال گذشته یك تن دریك

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

پیام نجیب به ختهك سپرده شد

پشاور - ۱ اسد :

یك رفیق نزدیك داکترنجیب روزشنبه درپشاور بااجمل ختك یکتن ازسران گروه « عوامي نشنل پارټي » پکتستان وبیگم نسیم ولي رهبرایالتي این گروه ملاقات کرد وپیام خاص کتبي داکترنجیب را به آنهاسپرد .

روزنامه فرانتیرپست به نقل ازگزارش خبرگزاري رسمي پاکستان مي نویسد آنها درملاقات یك ساعته شان پیرامون

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

د دوو روسی لیکوالانو له کتاب «تعرض » څخه :

ببرك گورباچوف ته وویل:که اوس لښکرې وباسی په راتلونکی کی به دیوملیون عسکرو په لیږلو مجبورشی

گورباچوف ددې خبرې په اوریدو چې له افغانستانه پوځونه باسي دکارمل مخ تور وخوټید

پوزانوف دامین له ویرې گلاب زوی ، وطنجار اوسروری په صندوقونو کی مسکوته یوړل

پاتې «٤» مخ «۱» کالم

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
شهادت
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون - پېښاور

هغه چي په کابل کي نشته ...!

په کابل کي خوشونزي اونيمګرتياوي ډېري دي، ډېري خبري وړياندي کېداي شي، په ډېرو باندي ئي غږيدل ضروري دي، دډېرودرفع کيدوډېرواضح امکانات اوزمينې شته اوددي چانس شته چي ډېرمعقول اوموثريدلونونه راشي، کله چـي موږدلته دزمينې ،امکاناتواوچانس خبره کوو، مقصدموداده دي چي پـه يوه ايډيالي اوتصوري روحيه موضوعات مطرح کوو، بلکي دعملي ، شرايطو اوموجودو واقعيتونو اوظرفونوله مخي غږېږو .

پواځي پرڅه توجه غواړي، لـه سليقوي، شخصي او ګروپيکو انحصاراتو راوتل غواړي، په يوه لويه روحيه نيت اوعمل غواړي اوديوي نظرياتي اوملي داعيې اوهدف مخي ته اچول غواړي، دبيلابيلو تعصباتواوکم ظرفيتوله چوکاټونوڅخه راوتل غواړي، پومسئولانه ګرګټراوشجاعت غواړي .

دلته چي موږ په کومه مشخصه نيمګرتيااوستونزه غږېږهغه داده چي په کابل کي له زياترو مسئولينو سره داسي روحيه ده لکه په پردي خاوره کي چي وي، دېوي محدودي مودي لپاره خدمتي وي اوکه نن وي که سبا له هغه ځايه به کوچېدودي .

خارج ته دتللواولاري دپيداکولو رجحان يوه عجيبه غلبه لري، داسي شتمني ترلاسه کول چي بهرته انتقال شي و زياترو لپاره يوه مرغوبه مشغولا ده اوپه دي لارکي يـوه افسوسناکه اوژوروونکي مسابقه روانه ده .

دايوه بدمرغه اوفاجعه زېږوونکي روحيه ده چي نظم له منځه وړي، په فرصتونواوامکاناتو باندي دبربادۍ تريان راولي، قوتونه اواستعدادونه ضايع کوي ، په ټولنه باندي دچوراوچپاول وکلتور راج تينګوي، په حالاتوکي دهرراز بدلون راوستواوپرمختګ ترلاسه کيدو احتمال له منځه وړي اونه پرېږدي چي حالات اواوضاع داناړشيزم اوبي قانوني او بدقانوني له حالت نه ووځي .

موږفکرکوو چي پـه کابل کي دخلورو مهمو شخصيتونومحترم استاد«رباني»، ورورو حکمتيار»، استاد«سياف» اوانجنيره«مسعود» لپاره دا دډېري اساسي توجه اولومړني ترجيح موضوع ده چي ددي حالت دختمولو لپاره اقدام وکړي .

اوداسي وضع رامنځ ته کړي چي مسئولين دمسئوليت احساس وکړي، خپل هيواد، خپل دايمي تاتوبي وګڼي، خپل پرمختګ اوارتقا په قانون اواصولوکي ولټوي، دناروا تصرفاتو ئي مخه ونيوله شي .

بايدله ټولو مسئولينوسره دا روحيه ايجادشي چي مرګ اوژوند به موږه خپل هيواد کي وي، البته داختمي نه ده چي بايد سياسي قدرت زمونږ په لاس کي وي، که سياسي قدرت له بل چاسره وي نوبيا به خامخا له وطن نه وتل وي . دايوناوړه رواج دي چي کمونستانودخپلو نورو خيانتونوترڅنګ په افغانستان کي رامنځ ته کړ . مجاهدين دخپل ملت اووطن ريښتوني زامن دي، دخپل ملت او وطن لپاره ئي بـوره نيمه لسيزه په خپلوويناواوسرونو لوبي کړي هغوي ددي وطن وارثان وي، البته باداران نه بلکي خدمتګاران اوساتيان .

په کابل کي دادارومسئولينوته لازمه ده چي په همدي روحيه ځانونه عيارکړي، دمجاهدينويه روحيه ، دپردواوميلمنويه روحيه نه،که ددولت اوحکومت څلوروارو مهم شخصيتونه چـي پاس ئي موږنوموونه واخيستل په دي باره کي عملي اقدامات وکړي، مقررات وضع کړي، دمکاناتو اومجازاتو پرنسيپ ته توجه وکړي ، او دروابطو په ځاي ضوابط وپالي، حتماً بـه دمسئولينو روحيه بدلېږي، اوداېدلون به دډېراساسي تاثيرات رامنځ ته کړي .

کنه نوپه کابل کي دالګېدلي ناروغي به ډېري ناوړه نتيجي رامنځ ته کړي .

دحکومت مهمي وظیفي

دریمه برخه

زمونږ مامورین بایـد لـه خپلو صلاحیتونونه غلطه استفاده ونکړي ، دخپل قـدرت نه بایدځان، دخپل قوم، دخپل سمت ، منطقي او دخپلي ولي او سياسي حزب پـه ګټه استفاده ونکړي . دمامورينوتوظيف پـه جريان کي مبادا دخپلوي، رفاقت په اساس څوك توظيف کړي اوياد‌رقابت پـه اساس څوك له خپل مناسب ځاي نه محروم کړي اوکارنااهل ته وسپاري، داخيانت دي .

همداراز هغه مکلف دي چي ددولت له مربوطو وسائلو، امکاناتوڅخه ددولت په کاروتوکي استفاده وکـړي . تاسوته به داخبره عادي معلومه شي چي دېوي اداري موټرچي هغه ددي لپاره ستا په خدمت کي دي چي دخلکو خـدمـت وکړي ترادارې پوري لاړشي اوراشي ددولت کارونه ترسره کړي اوته په دي کي خپل ماشومان مکتب ته لېږي، ته په دي کي خپل فاميل واده اوميلمستياته لېږي اوته پـه دي کـي دکرولپاره سودا اخلي دابـه تاته عادي معلوم شي ،« دحضارودتکبيرتعري »

خوداېوامانت دي، دابه دامانت په حيث ساتو، له دي نه به غلطه استفاده نه کوو، داوسايط تاته درکړشوي چي په دي کي به دخلکوکارونه کوي، رسمي اوقاتو کي به له دي نه استفاده کولي شي، په رسمي دولتي چارو کي له دي نه استفاده کولي شي، داټول وسائل اووسايط بايد امانت وګڼل شي .

همدارازدمالي تصرفاتوپه جريان کي بايد متوجه اوسو چي دادخداي (ج) امانت دي، داالهي امانت دي، داددي مظلوم ولس نه راټول شوي امانت دي، داچي په تامصرف کېږي معاش درکول کېږي اوپه اداره کي درته وسائل اووسايط برابرشوي پوهېږي دا دچيـانه راټول شوي ؟ او ددي لښار چاتـه متوجـه دي؟ دغـه چي په بازارونوکي ګـرځي او اوس وجه دوي په کورکي نـه لري داڅو خلګوامانت دي، دپيسي ، پيسي پـه مصرف کي بايد محتاط واوسـوو اوداالهي محاسبي نه بايد ووېرېږو مونږپه خداي (ج) ايمان لرو، په آخرت ايمان لرو، دآخرت په محاسبي ايمان لرو، هغه څوك چي پـه خداي (ج) اوپه آخرت داالله (ج) پـه وړاندي په ودرېدلو اوپه الهي محاسبي باورلري هغه به خامخا په خپلوتصرفاتو کي محتاط وي، « ومن يعمل مثقال ذرة شرايره » دېوي ذري په اندازه هم چي چاناروا کړي دقيامت په ورځ به ئي ګوري مونږبه دي باورلرو ،مونږ همدغه لارغوره کړي ده داموایمان دي، دغه موايډيولوژي ده دکمونستانوپه شان نه وايوچي انسان دبوټي په شان راپيداشوي ،مري ، نه خداي (ج) شته نه آخرت شته اونه حساب اوکتاب شته مونږ خوپه دي باورلرو چي : خداي (ج) پيداکړي يو، دالله (ج) په لوري درومو، آخرت دي، بيا ژوندون دي ، د الله (ج) پـه وړانـدي اودرېدل دي اخروي محاسبـه ده ، ددي پيسي ، پيسي حساب بـه له مونږسره کېږي .

پيغمبر عليه السلام فرمائي چي دهرغداراوخائن لپاره دقيامت په ورځ يولوا ده چي دهغه په سرين کي به نصب وي اوترټولو لوړه لوا به دهغه مسلمانانو دمسئول لوا وي چي دعام ولس سره خيانت کوي نوبايد دبيت المال په تصرف کي محتاط واوسيږو، دي ته متوجه واوسېږو چي زمونږ په محافلوکي اسراف ونشي اومحافل موهمدغسي ترتيب شي چي دخلکو له ابتر اقتصادي حالت سره مناسب وي چي کله په دسترخوان کېنو خودمظلوموخلکو وضعيت موهم سترګوته مجسم شي اوله دي نه وېره ولرو چي مبادا هغوي چي کله پـه دسترخوان کښي اوڅه نه ګوري وږي ماشومان ئي شاوخواته راڅرنګېږي مونږته ښېراوکړي، لاسونه اوچت کړي اوښېراوانه وکړي بايد له دي نه وېره ولرو بايد دهغوږدردمندانوحالت موهميشه مخي ته مجسم وي، مونږ به له هغوي سره خپل ژوند پوښان ته برابروو، هغوي به نه خپروو، کم له کمه ، له هغوي نه به فاصله نه نيسو، اشرافي ژوند به نه غوره کوو، اشرافي ژوند تحريکونه اونهضتونه ختموي، له ولسونو اوملتونونه ئي تجـريدوي، دهغوي دزوال اوتباهۍ باعث ګرځي،بي دردي، بي احساسي راپيداکـوي ، احساسات ختموي، له ملت سره، له ولس سره دتحريك او دنهضت دافرادو رابطه ختموي بايد کوښښ وکـړو چي ساده ژوندغوره کړو، دهرنوع اصراف اوتبذيرنه بايد ډډه وکړو، زه خپلومامورينوته وايم چي دايوورقه کاغذ هم چي ستاپه لاس کي ده که دي بي ځاي مصرف کړ، په

> مونږ په واضح اوصريح الفاظو وايو چـي غـواړو ښځي زمونږ په دي اسلامي ټولنه کي خپل اسلامي واضح رول ادا کړي، خپل ټول اسلامي حقوق ترلاسه کړي، په دي مرباور دي چي که ښځه جوړه شوه جامعه جوړېږي ، که ښځه دايمان په وسله سمبال شوه دهغي په غېږکي به ستر، سترقهرمانان روزل کېږي، چي ښځه سقوط وکړي جامعه سقوط کوي.

پرامانت کي دي خيانت وکړي، دي کي هم بايد محتاط واوسي، مونږته اسلام وائي چي حتي ددرياب په ژي ‌هم ناست ئي اودس کوي هلته به داسراف نه ډډه کوي نورخوپرېږده چي ددرياب په ژي هم ناست ئي . هلته به هم دزياتوالو له مصرفولونه ډډه کوي، داخوپرېږده چي اوس مونږدغسي ابتراوپريشانه اقتصادي حالت لرو، څوکه مونږ وسيع امکانات هـم ولرو په پيسي ، پيسي مصـرف کـي بايد محتاط واوسېږو، دهري ورقي کاغذ ،دپوپنسل ، پنسل پاك پـه ارتباط هم بايد محتاط واوسېږو لوټي لوټي خبري خوپرېږده .

مونږچي له مامورينونه کومه بله توقع اوانتظارلروهغه داده چـي : ددولـت دمقرراتو به په کلکه مراعات کوو دوخت پابندي به ساتو، زمونږ ماموربايد په خپل وخت دفترته راشي اوپه خپل وخـت له دفترنه لاړشي . دهغه دکارځاي دفتردي ددفتردرئيس له اجازي نه پرته هغه په بل ځاي کي په کارنشي مصروفيدلي شايد څوك ووائي په اداراتو کي کارنشته ، شايد دادومره مهمه مسئله نه وي چي مامورمکلف وي په دغـسي حالت کي چي په دفاترو کي اداري کارونه نشته حتماً په خپل وخت راشه خو پـه دي باب دبي اعتنائي معني داده چـي دامامورا صلاً ددولت مقرراتوپه نسبت بي اعتنادي، په هرصورت نه استخدام شوي ئي ملت تاته ددي کارپه بدله کي معاش درکوي، په همدغه معينه لحظه دفترته راتګ اوپه همغه معينه لحظه لـه دفتر نـه وتل داستاپرتعهددي دخپل قوم سره ،له نظام سره ، له اداري سره ، ته به په خپل تعهد اودرېږي په خپل وخت دفترته راتلل اوپه خپل وخت دفترپرېښودل ټول رؤسا او مسئولين داداراتوبايدداپه جدي طورمراعات کړي، خپل مامورين بايد کنترول کړي، په خپله ترټولو دمخه بايد دفترته حاضرشي، دنورولپاره نمونه شي چي هغه مقررات محترم ګڼي، هغه ددولت کارونه مهم شمېري هغه خپله وظيفه ترسره کوي، که څوك فارغ نه دي ددولت کارونه نشي کولي، ضرورت نه احساسوي داورته ډېربهتره اوغوره ده چي چېرته لاړشي خپل شخصي کارپيداکړي په بل کارکي مصروف شي،مونږله دي مشکل سره مخامخ يو چي اکثرو مونږته ويل چي په اداراتوکي زيات کارنشته ،دجګړوپه وجه داسي حالت راپيداشوي چي زمونږ اکثري اداري فلج دي اوخاص اداري توليدي کارونه اوفعاليتونه نـه لري، په کابينه کي به په دي بحث شوي، مونږدالازم وګڼله چـي اوس دي دهفتي دوه ورځي رخصتي وي ، پنجشنبي اوجمعه دواړه ،معمولاً اوس نوروملکونوکي هم ګورووچي دهفتي دوه ورځـي رخصتي منل شوي

خوله دي نه موږواځي تعليمي موسسي ،اوتوليدي موسسات مستثني کړي که څه هم اوس زمونږ توليدات ټول په ټپه اودريدلي، زمونږټول اقتصادي تاسيسات ختم شوي محدود شيان چي دپاته‌وړي ورهم نـه دي داپاته دي خومونږبيا هم توليدي موسسي لـه دي نه مستثني کړي پرواځي، ادارات ددي فيصلي شامل دي،رياست جمهوري مقام ته داراجع شوي همدارازمونږددي فيصله هم کړي کوم مامورين چـي اوس اوس پـه خپلو دفترونوکي خاص اداري مصروفيت نه لري وزګاردي اودهغوي ټول کاردکورنه ترددفترپوري تګ اوراتګ دي په دي خاطرچي بي ځايه مصارفونه مخنيوي شوي دي لکه دټرانسپورټ مصارف، ددفترددوسايلو داستهلاك مصارف ؛ نو فيصله موکړه چي وزراء او ددفترونو مسئولين دي دخپلو رؤساوو په مشوره داوګوري چي په کوموادارائوکي اوس، اوس مونږ خاص ضروري کارنه لرو او زمونږ مامور اوزګاردي هغه دکورنه ترددفتره پوري دتګ راتګ نـه بل مصروفيت نـه لري، داماموري تثبيت شي اوددي پـه ځاي چي هغه ورځني حاضري باندي مکلف وي برعکس هغه دي مياشتي يوځل حاضري باندي مکلف شي له دي نه هم کېدلي شي له ډېرو بيهوده او بي ځايه مصارفونه مخنيوي وشي، په دي باب هم دکابينې اتفاقي فيصله دبحث اومنظوري لپاره رياست جمهوري ته وړاندي شوي، دغومامورينوته به خپل ټول امتيازات ورکولي کېږي ، هغوي به خپل ټول حقوق دسابق په شان ترلاسه کوي، ددولت له مامورينونه زمونږ داتوقع اوانتظار دي چي په کلکه اوجدي طور چي هغه په داسلام دټولو اصولو مراعات کوي . يوله مهمومسائلو نه پرهغه دلمانځه پابندي ده ، په دفترونوکي دلمانځه بايد په کلکه پابندي وشي، اسلام کي ، په اسلامي نظام کي لمونځ ځان ته ځاي لري ، دادين ستنه ده او قرآن فرمائي پوځي دهغه چا سره جګړه نشي کېدلاي چي دايمان راوړلونه بعد لمونځ وکړي اوذکات ورکړي په چاکي چي دادوه شرطه نه وي له هغه سره جنګ کېداي شي معني ئي داده چي چالمونځ ترك کړي له هغه سره جنګ کېداي شي، پيغمبر عليه السلام فرمائي چي ډېرځله مي زړه غواړي چي داشيخان په جومات کي پرېږدم دځوانانوپه ټولګي دځان سره واخلم او دهغه چاکورونوسوځوم چي لمانځه ته نه دي حاضرشوي دلمانځه په نسبت بي اعتنائي بايد ونه زغملي شي، داحد فاصل دي دکفراوداسلام ترمينځ ، زمونږ خواهش اوتمناداده چي کله دلمانځه لپاره آذان وشي اودلمانځه وخت راورسېږي ټول مامورين بايد خپل کارپرېږدي اودلمانځه ځاي ته حاضرشي کاش زمونږپه ملك کي داحالت راپيداشي چي کله دآذان وخت راشي آذان غږاوچت کېږي موټرځاي په ځاي اودرېږي ، دوکانونه ځاي په ځاي پرېښودلي شي اوټول جومات ته راشي ، دوکانداره دي نه وېره ونه لري چي دوکان ئي خلاص پري ايښي څوك به له هغه نه څه غلاکړي ، دشپي دچادکوردره خلاصه ده له دي نه وېره ونه لري چي څوك به دهغه کورته داخل شي بلکه داتي باوروي چي دلته پوليس دهغه ساتنه کوي ،کاش مونږ په ملك کي دغسي حالت راپيداکړو چي

> زه يوځل بيا داخبره تکراروم هغه مامورچي دشعائرالله په نسبت بي اعتنائي کوي اوهغه دلمانځه په نسبت دغسي دېوي لوئي مهمي فريضي په نسبت بي اعتنائي کوي بهتره داده چي هغه دي په خپل کورکيني هغه داسلامي نظام دماشين لپاره مناسبه پرزه نـه ده ، هغه په دي نظام کي کارنشي کولي، په دي نظام کي چي څوك کارکولي شي،هغه دي چي په خداي (ج) ئي ايمان وي ، له خدا (ج) نـه وېرېږي اوغواړي دخداي (ج) دبرېنده په حيث عمل وکړي .

دآذان اوريدو سره ســم : هرڅه په ټپه ودرېږي، ،ټول کارونه متوقف شي اوټول مامورين بلا استثني لمانځه اوجومات ته روان وي داوالله (ج) په لوري دهغه دعبادت په لوري بلنه ده داعلان دي دخداي (ج) دعبادت ،بنده ګي په لوري، داپايد عادي تلقي نکړو، دآذان بايد ځان ته ځاي وي اوهغه بايد سخت محترم وګڼلي شي، ترډېټه هم بايد زيات محترم وګڼلي شي چي په عسکري قطعاتو کي غږکيږي چي ټول افرادراووځي اولين ودرېږي ترډي بايد محـتـرم او ډېرمهم وګڼلي شي .

ماته ووائي چـي پـه عـسکري قطعاتوکي اعلان وشي چي بايد ټول افراد له قاغوشونو نه ووځي اوجمع شي څوك هم وروسته پاته کېږي ، دهغه سره ئي افسراوصاحب منصب ئي څه معامله کوي خوکله چي تاخداي (ج) رابلي اولمانځه ته رابلل کېږي ترعسکري نظام نه بايد داډېرډېرمحترم وګڼلي شي، او دهغه په نسبت بي اعتنائي بايد ترهغه نه هم ډېره خطيره وشمېرلي شي امېد مي داد چي زمونږ پـه ټولو دفاترو کـې داپه جدي طورمراعات شي هغه څـوك چي آذان اوري اوزمونږ جومات اولمانځه ته نه راځي زه خودابهتره ګڼم چي هغه مامورږخصت کړو هغه داسلامي نظام لپاره په درد نه خوري، زه خو دا لازم ګڼم چي دغـسي ماموريه دي خاطر هم رخصت کړو چي مونږپه اسلامي نظام کي هغه مامورته ضرورت لرو چي له خداي (ج) نه وېرېږي او په خداي (ج) ئي ايمان اوباور وي ، مونږ صرف دغـسي کسانوته ضرورت لرو اودشعائرالله په نسبت سپکاوي اوبي اعتنائي ونکړي مونږدغسي مامورينوته ضرورت لرو، باورونکړي که زمونږ لمونځ جوړشو زمونږ ټول مشکلات به خداي (ج) حل کوي ، اختلافات پـه خداي (ج) ختموي، داخلي جګړي پـه خداي (ج) ختموي ، زمونږ اقتصادي مشکلات به خداي (ج) ختمـوي، اداري فساد به له مينځه ځي،ساله اداره به جوړېږي اوپه زړونوکي بـه مومنـه اوالفت راپيداکېږي داکرکه اونفرت به ختمېږي ،الله (ج) به زمونږټولي ستونزي اوکړاوونه په خپله حل کوي .

آياته غواړي چي خداي (ج) ستادامورومتکفل شي، خداي (ج) ستاولي اوکارسازشي، خداي (ج) ستادمشکلاتو مشکل ګشائي ؟ هرڅه دخداي (ج) په واك کي دي، باران دهغه په اراده ورېږي، څکه دانه اوميوه دهغه په اراده راشنه کوي، درزق دخزانې ګنجيانې هغه سره دي دمشکلاتو حل کونکي هغه دي که غواړي دمځکي اودآسمان دبرکت دروازي ستامخي ته پرانيستلي شي ددي فيصله خداي (ج) کوي . دهرڅه ټولواك خداي (ج) دي اصلي واکدارخداي (ج) دي، که تا خداي (ج) ته مخه کړه اوپه واقعي معني دي دهغه عبادت اوبنده ګي وکړه خداي (ج) ستادمشکلاتو دحل کولو ذمه واردي .

الله پاك فرمائي چي ماانس اوجن نه دي پيداکړي مګرددي لپاره چي زما عبادت اوبنده ګي وکړي، زه له هغوئه رزق نه غواړم او داهم نه وايم چي ماته طعام راکړي . يقيناً چـي خداي (ج)رزاق دي اويواځي همغه رزاق دي اودمتين قوت خاوند .

ستادرزق اودروزي ضامن رزاق خداي (ج) دي هغه چي دمتين قوت خاوند دي نوته مکلف دخداي (ج) په عبادت اوبنده ګي ئي ،ته دخداي (ج) عبادت اوبنده ګي وکړه ستاامورخداي (ج) درتـه اصلاح کوي، مونږهمدالار غـوره کړي دازمونږ ايډيولوژي ده، دغه زمونږجهانبيني ده ، دازمونږ خـط مشي ده ، مونږ همدغه لارغوره کړي، زمونـږ مامـورينوهمدغه لاراختيار کړي ، په همدي ئي تعهدکړي . زه يوځل بيـا داخـبره تکراروم هغه مامورچي دشعائرالله پـه نسبت بي اعتنائي کوي اوهغه دلمانځه په نسبت دغـسي دېوي لوئي مهمي فريضي په نسبت بي اعتنائي کوي بهتره داده چي هغه دي په خپل کورکيني هغه داسلامي نظام دماشين لپاره مناسبه پرزه نه ده ، هغه په دي نظام کي کارنشي کولي، په دي نظام کي چي څوك کارکولي شي هغه دي چي په خداي (ج) ئي ايمان وي ، له خدا (ج) نه وېرېږي اوغواړي دخداي (ج) دبرېنده په حيث عمل وکړي .

همداراز کاش مونږوتوانېدلي شوچي دناريته اوښځولباس موکاملاً اسلامي وي داخبره هم ډېروخلکو ته عادي معلومېږي خوداډېرعميق اوژوراهميت لري. مونږ دوه لاري په مخه کي لرو بايد دېومستقل سرلوري ، مومن اودمسلمان ملت په حيث ځان ته کرکتر اوشخصيت لرو، بېل مستقل اسلامي هـويت بـه لرو اويا به دسپکو، فرومايه عناصرو په شان دنوروتقليدکوو، کومه لارغوره کوي ؟ زه غواړم زماقوم سرلوري وي، دنورو لپاره الګو، اسوه اوڅونه شي، دنورو لپاره قدوه وي، نورو ورپسي اقتدا وکړي ، هغه دي دنورو مقلدنه وي دنورو سپك تقليد ونکړي ، خپل اسلامي هويت دي له لاسه ورنکړي، مونږ همداغواړو .

> زه غواړم زماقوم سرلوري وي، دنورو لپاره الګو، اسوه اوڅونه شي، دنورو لپاره قدوه وي، نور ورپسي اقتدا وکړي ، هغه دي دنورو مقلدنه وي دنورو سپك تقليد ونکړي ، خـپل اسلامي هويت دي له لاسه ورنکړي، مونږ همـداغواړو .

له ناريته وونه هم زمونږ همداتوقع ده اوله ښځونه هم ، متاسفانه تراوسه پوري مونږ نه يوتوانېدلي چي معين ملي لباس ځان ته ولرو چي ښځي ئي هم مراعات کړي، ناريته ئي هم مراعات کړي، مونږ بايد ديوځ لپاره هم ځانګړي يونيفورم ولرو کاش همدغـسي شي، دپوليس لپاره هم ځانګړي يونيفورم ، دمامورينولپاره هم ځانګړي اوښځولپاره هم بېل مستقل لباس لکه څنګه چي اسلام حکم کوي، دي کي به په مدار ، مدار تبديلي راولو اوهرڅوك بايد له ځانه سره فکروکړي اوپه خپله تبديلي راولي، ټول کولي شي‌ په آساني داڅلکهـلـد کړو چي آيا په لباس زه دبل تقليدکوم اوکه نه خپل ملي اسلامي هويت مي ساتلي، هـرڅوك دي ځان ته بېل په خپله فکروکړي، دي کي تبديلي راوستل هم مهمـه خـبره ده . څکه دقومونو دذوب کيدو اودنوروپه تمدن کي دسقوط او بالاخـره د غلامي طرف ته دتللولارهمدغه ده چي په بل پسي په مدار،مدار پـه يواويل کارکي اخلاقي مسائلوکي ،دلباس مسائلوکي ، خوراك، څښاك کي ، اونوروکي تقليدپېل کړي په

پاتي «۴» مخ «۱» کالم

دارشاد اوفرهنگ محترم ریاست ته !
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

لومړی ستاسی درېاست ټولوکار کوونکو ته له عزیز خدای څخه کامل صحت غواړم ، بیا پدی وياړم چی زموږ دجامعی په منځ کی خدای پاك داسی مفکر، مبتکر ،بااحساسه ،بادرده ،تازك خیاله اوبالاخره زړه سواندی شخصیتونه پیداکړی ،چی دهری موضوع په مورد کی که هغه غټه وی اوکه وړه ،ترژورنه ژور فکر کوی اواخلاص ورانګی یی دهرهغه چا زړه روښانه کوی چی د اسلام ،وطن اوخلکو سره دزړه مینه لری .

ما د۱۳۷۵/٤/۳ نېټی دشهادت «۵۹» ګڼه په خاصه دلچسپی اوعلاقی سره لوستله چی دیوه نوی عنوان سره مخامخ شوم اوهغه عنوان عبارت ؤ له (دپرېشنی خواب) چی ښاغلی حفیظ اللهٔ«تراب» په ښکلی قلم لیکل شوی ؤکله می چی په دی عنوان سترګی ولګیدی په لوستلو یی ما شروع وکړه اوفکر مې وکړ چی ډیر ښکلی خوب وینم ،دمضمون لوستلو ته می دهمغه خوب په حالت کی دوام ورکړ ،پداسی حال کی چی دتوی هیڅ څخه دنصرت مینی په خوا په PRN-225 مینی بس موټر کښی سپور وم هیڅ وقفه می په لوستلوکی رانغله ترڅو عنوان(مضمون) ختم شو سترګی می له خوبه راپورته کړی ،شا اوخوامی وکتل چی بیده نه بلکه بیدار یم بیا لا په خیال اوچرت کی لاهو شوم او له ځان سره می فکر وکړ چی ای مهربانه خدایه! ستاسی داسی یوه بله دنیا واقعاً هم شته .

ددی مضمون دلومړیوسطرونو څخه می برداشت داسی ؤچی البته دسویزرلند هیواد معرفی کوی اوکه افغانستان خو کله چی دمضمون متن ته ورسیدم له مانه هیواد ، ځای اوموقعیت ورك شو ،په عالم ارواح کی ډوب شوم ،دجنتونو صفتونه ،دخدای دنعمتونو اقسام ، عظمت ،جلال، پاکی ، ایثار اوقربانی - ټول می سترګوته ودریدل لکه چی جمله شیانو کی می څه شی ورك کړی او هغه لټوم.

زما له نظره دا مضمون په ډیرعالی طرز مؤثرو الفاظو ، ښوخوږو ادبیاتو او منظمو جملو سره لیکل شوی ؤ ،پرمایی اثردومره زیات ؤلکه چی بیده له خوبه بیدار شم ،دروني احساس می داسی وهڅولم چی څه ولیکم اود ارشاد اوفرهنګ له محترمو کارکنانو څخه عام اودمضمون له لیکونکی نه خاص امتنان

څرګند کړم اوخپل احساس داسی ولیکم چی په ادبی دنیاکی ډیر ښکلی الفاظ اوګلمی شته که ما دکم علمی په وجه کم لیکلی وی معذور مو وبولی ، دشهادت دډیټی موضوعاتوپرڅنګ هم ډیره مهمه اوآموزنده ده .

خدای پاك دی موږ تاسی اوټولو ورونوته همداسی واقعی ځایونه نصیب کړی .

په درناوی
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
مدیر نسیم

متصدی : ضیا اروال

بې تفاوتي

دشهادت ورځپاڼي محترمو کارکوونکوته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

تاسي پرخداي باوروکړي، چي پدي جساسو ورځوکي ، ښي خبري، دامید خبري دنصحیت خبري، له بل هروخت نه ضروري برېښي ځکه کوم وختونه چي تېرشوي (له ورځه تیري اوبه دي چي نه راګرځي) له دي حساس فرصت نه بعدیوه لحظه غفلت هم ګناه ده . داسلامي ټولني جوړول دهرفرد وظیفه ده . بایید داسلامي اجتماع دتعمیر لپاره دتهذاب دېسوي ځښتي مثال جوړکړو ،ضرورت خرواداي فعلي جریانات په دقت سره تشریح شي، خلکوته معلوماتونه وړاندي شي، رهنمائي وشي دتدابیروړاندیزوشي ، اوکه داسي څوك نه کوي بې تفاوته پاتي کیږي خپل اسلامي اوټولنیز مسئولیت نه رفع کوي، ددي غم خپلي ملت سره خراخوري نه کوي ، خپل احساس په هره وجه چي وي پټ ساتي نه پوهیږم بل وخت به تردي ښه اومناسب څه وخت وي، چي خپل توان ، استعداد ، پوهه له خپل رېږدلي ولس څخه سپموي ،دابه څنګه بیده وجدان وي چي اوس هم

نــه راپیداریږي . دافریقا دځنګلونو مجان خرپه افغانستان کي نشته چي په کلني خوب یی ویده کړي وي .
«بزبه پاي خود ،ګوسفند به پاي خود »
(ضرب المثل)

داسلام دښمنه عناصرڅوا جوړشوي مسلمان بااحساسه وي ،دلسوزه اوداجتماع په غم اوښادي کسي شریك وي .

محترمو ورونو کله چي دشهادت دپنجشنبي دورځي ۷۵/٤/۱ تاریخ (۷۳) شماره په دلچسپي اوعلاقه سره مطالعه کوله د (نامه سرکشاده به محضرصدراعظم کشور) لــه عنوان سره مخامخ شوله . پداسي حال کي چي ممکن لــه ځینو جملاتو ، مفاهیمو سره بی موافق نه وم ، دمحترما اواحساس په لحاظ ډیر مفیداومناسب رهنمودونه پکي لــیدل کیږي . ددي مضمون په لوستلودفکر پــه تال لاړم . دکابل پوهنتون ، لیسو، مکتبونو د۱۳٤۸ کال دراپدېڅوا حالات راپه یادشول بیا دکمونستانو دلوايي مباشتي د۷ تاریخ کودتاه راپه یادشوه دهغوي شدت عمل دمسلمانانو په مقابل

پاتی «٤» مخ «٦» کالم

زه فکرکوم دافغاني مسلمانو ښځو دبدنامولو له پاره یوځانګړی بدنام سازمان دغــه راز اعمال ترسره کوي

ګرانولوستونکو، ښاغلي جان کوچي ، موږته په زړه پوري انتقادي مطالب رالیږي داځل یي هم یوه مهمه موضوع څېړلي چي رښتیا هم په ټولو افغانانو پوري اړه لري، مــوږ ددي مطلب یوڅه برخي حذف کړي چي دکلام اوقلم عفت اودشهادت ورځپاڼي درنښت یي نــه ایجابوي چي

په دي وپاړلي ورځپاڼه کي دسند په توګه خپاره شي . ستاسي پام ورته راګرځوو : دشهادت اداري ته ډیرزیات سلامونه وړاندي کوم !

دایوڅرګنداوښکاره حقیقت دي چي افغاني خاوره یوغیرتي اولس اووګړي لري دنړي په تاریخ کي هروخت خپل یادګاري تاریخونه پداسي روښانه الفاظو لیکلي پریښي دي چي دهیڅ طبقي خلق تــري هیڅ وخت هم انکارنشي کولاي . افغان قوم ډیر غیرتي اوعزتمنده قوم دي چي خپل اسلامي روایات اواندازلري .

افغانان که څومره هــم تهدید شوي اودنړي دکفري طاقتونوسره پــه جنګ شریدي تــرهغه وخته په آرام ندي ناست ترڅوني خپله ازادي نده حاصله کړي. انقلابونــه او جنګونه لکه دخوب لیدل تیرشول په هرځل بري دافغان په نصیب شویده. لیکن که چیرته دروسي انقلاب ته په زیرشولا تر اوسه هم جاري دي،که څه هم په ظاهري ډول روسان مسکو اوملګري اودوستان ئي هم دتیت اوپرك په حال ورك شوي لیکن داخبره باید هیڅ کله هم د ذهنه ونه باسو چي لاتراوسه یي هم دافغانستان په خاوره کي اثرات شته په باقاعده ډول دغیرمستقیمي لاري یواځې زموږ دښمن نه بلکه دوستان هم په شربت کي زهر راکوي . اوهیڅکله هم دافغانانو آزادي ، خپلواکي تــه په درنه سترګه نه ګوري اوداسلامي نظام دنفاذ څخه کرکه اونفرت کوي اونه غواړي چي دغرب [illegible] کفري طاقتونولاس دافغانستان [illegible] څخه ورځي پــه هر وخت او [illegible] مختلف نیرنګونه او چلونه [illegible] خپل پلیت اومردار عزائم ترسره کړي .

خبریږم پــه ژړا یوخ دي افغانان دسختو، جنګونو او نهارو سره بلد اوآموخته دي لیکن یوه خبره چي په نن صبا حالاتو کــي ډیره خطرناکه شوي اوافغاني کلتور اومیرني تاریخ ني دشرم سره مخ کړي څــه مخ نیوي او تدابیر غواړي . لومړي زه خپلو جهادي مشرانو ته او بیا ټولو هغومسئولینوته داخبره یادول غواړم او هیله مندیم چي پدي باب لازم تصامیم ونیسي چي بالخصوص په پیښورکي اوسیږي .

ماپدي هکله ډیر کوشش وکړو څوڅه موثق معلومات مي ترلاسه نه کړاي شول لیکن بیاهم پدي وتوانیدلاي شوم چي پدي. هکله ځیني نظر ئسي معلومي کړم .

دوېږي مسودي راپــیدي خوایوتعداد افغاني ښځي چي په پیښور اوخاصکر حیات آباد پــه مارکیټونوکي دسوالګرو په نوم ګرځي دوي په حقیقت کي سوال نه کوي بلکه دسوال په نوم خپل ځانګړي ورکړشوي دندي سرته رسوي ، سره لدي چي بعضي داحتیاج اومشکل لرونکي زنانه هم پکي شته لیکن دهغي کره وړه په واضح ډول دنورو سره توپیرلري .

پدي هکله صبي دیومیلمه نه چي دجرمني څخه راغلي و پوښتنه وکړه هغه راته صرف دومره وویل چي ګمان کوم پدي هکله دښځینه نوم پاپه کوم بل نوم مستقل بدنام تنظیم پــه کاریوخت وي ترڅو افغانان بدنام کړي .

بیامي دیوي سوالګري نه پوښتنه وکړه هغي راته وویــل ، دوي خودمستي نه بازارته راشي بیا مازیګر دوي خپلوکوروته لاړي شي هلته پاخه کوروته چي په زرګونوکرائي ورکوي نیولي ، رنګینه تلویزیون وي سي آر اوټیلفون لري اوبعضي ئي پکي ښه لکس موټر هم لري دوي [illegible] ندي [illegible] خپل ساعت او [illegible] اوس ددوي له وجي موږته هم [illegible] سپکي سپوري واني اوځوك خیرات نه راکوي .

په دوي کي یوي چي یوکلن ماشوم ئي په غیږکي و دویل چي «یچیم یتیم دارهستیم خیرات بدهید » چي کله مي ورته ویل (شوهر،پدر وکدام سرپرست دیګرندارید ؟) په ډیرحقارت سره ئي وویل (درجنګ اولي حزب وجمعیت درخانه ام راکــت خورده و پدر اولادهایم شهیدشد) .

بیامي ورته وویل چــي : اینکه شوهرتو ۳ سال پیش شهید شده پس این طفل یکساله !! بــه بسیارفخروسربلندي ګفت : «که این طفل رادرتکت لاتري کشیدم .»

داوه لنډ اویوه اندازه ضروري

پاتی «٤» مخ «۷» کالم

مولانا !

څنګه رښتیاووایو؟

یوه ورځ رسول اکرم صلي الله علیه وسلم صحابه کراموته وفرمایل چي «اذاضیعت الامانة فانتظرالساعة ، قیل وما ضیاعها یارسول الله ؟ قال : اذا اسندالامرالي غیراهله »

ترجمه : چي کله امانت ضائع شونو قیامت ته سترګي پــه لاراوسي . چا پوښتنه وکړه چي اي رسول الله ! دامانت ضائع کیدل څه ډول وي؟ هغوي صلي الله علیه وسلم وفرمائل : چــي کله چاري ناأهلوته وسپارل شي .

زموږ په پرتمین جهاد کــي به ډیري ننګرتیاوي لــیدل شوي وي خودایوه هروخت اوپه ډیرشدت احساس شوي ده چي چاري اهل خلکوته نــه دي سپارل شوي. شاني ددي یوسترعلت په اتحادونواوائتلافونوکي دپوستونواوچوکیو ویش وي چي دچاپه سردکومي چوکي هماسیوري کړي هغه یي رسیدلي او پــه دي چا دومره سرته دي خوړکړي چي ایا نوموړي دورسپارل شوي دندي له اساساتو هم خــبردي اوکنه ؟

که څــوك یي حګ جګي ونه ګني نوزموږ دنوي کابیني په اعلان کړي شرو وزیرانو کي اطلاعاتو اوفرهنګ د وزیرپه ترګه دمولاناقیام الدین کشاف ټاکنه داسي ده چي نه حولي ورته یي اختیاره د ما شا ، الله اوبارك الله » وځي .

